# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| حقوق بشر | Human rights |
| --- | --- |

«کابلیان یې په وینو لیکي»
لیکوال: تلیاد داد نوراني
د پیشرو خپرونه:۵۰ گڼه
۰۸ اکتوبر ۲۰۱۴

## د پلار سترگو د شازیې جگ قد ته کتل

تر هغه سهاره مې مجاهدین لیدلي نه وو. تنکي ځوانان له پلنگي جامو سره د کابل پر سړکونو پلي او په پیکپ موټرونو کې گرځیدل. زه د وهم وهلي او پریشانه کوڅو پر ښنده میده میده روان وم .لمر تازه ختلی و او وړانگې یې د کابل پر غرونو خپرې وې. یو کس چې د یوه ټیټ رتبه مامور حالت یې درلود او په پښمي پټو کې یې ځان پیچلی و؛ زما اړخ ته روان و. و مې ویل: دا ځوانان خورا چمتو ښکاري. سړی راته ځیر شو او په کمزوري غږ چې د باد له خش خش سره ورکیدی، وویل: دوي ته ایرانیانو سلاح ورکړې.
غرمې خوا کور ته راغلم. پلار مې یو ټیټ رتبه مامور و، له کلونو زحمت وروسته یې وکولای شو چې همدا یو وړوکی کور جوړ کړي. نه پوهیدلو سبا به څه کیږي. زما خور چې په یوولسم ټولگی کې وه له تلوسې او اندیښنې سره یې وپوښتل: سلیمانه! مجاهدین دي لیدلي؟ په راډیوگانو کې د حزب اسلامي او شورای نظار تر منځ د لانجو په اړه خبرې کیږي. وایي چې دوستم او مسعود سره یوځای شوي دي.
ما له یو څه اندیښنې سره وویل: دلته د وحدت حزب حاکم شوی، کومه خبره نه کیږي. پلار مې په چرتونو کې ډوب و او څه یې نه ویل. موږ ټول ټال ۸ کسه وو او د گوزارې ژوند مو درلود. په هیڅ حزب پورې تړلي نه وو. زموږ زیات خپلوان ایران او پاکستان ته مهاجر شوي وو.
مازیگر پنځه بجې شاوخوا ټکان پیل شوه. ویل کیدل چې د مجاهدینو د خوشحالی ټکان دی. پیکپ موټرونو کې یې د شگو بوجې راوړلي او مرچلونه یې جوړول. زموږ مخامخ دوه منزله کور کې یې هم سنگر جوړ کړ. زما زړه وغورځید، ځکه زموږ د کور انگړ ورته مالومیدی او زما خور شازیه یې لیدله. موږ لا د تنظیمونو تر منځ په لانجو او دښمنیو خبر نه وو. زه ژر کوڅې ته لاړم. د دوه منزله کور گاونډی یې سخت ډبولی و. له همدې امله یې خپل کالي په موټر کې باړول. کرار یې راته وویل: سبا به همدا ستاسو حال وي.
په سبا یې لمر لا نه و ختلی چې تصمیم مو ونیو گذرگاه کې د ترور کور ته لاړ شو. دروازه مو وتړله او دباندې ووتلو. د مخامخ مورچل څخه یو وسله وال کس زموږ مخ ته ودرید او ویې ویل: څوک اجازه نه لري خپل کور پریږدي. موږ بیرته وگرځیدلو. د گاونډي د کور له لارې د شا کوڅې ته ووتلو او د گذرگاه خواته روان شولو. له دهمزنگ څخه لا نه وو تیر شوي چې څو پر له پسې چاودنو آسمایی وریږدوی او سمدلاسه قیامت جوړ شو. موږ له یوې لنډې لارې څخه ځانونه د ترور کور ته نږدې کړي وو. زما پلار چې د زړه تکلیف درلود په نفسکو زموږ شاته را روان و. دوی

خویندې او کشر ورور مې په ژړا وو او له هرې چاودنې سره به یوه شیبه هک پک پاته کیدل. ما تازه د ترور د کور کوڅې کې ګام ایښی و چې شازیې چیغه کړه: پلار جان یې وواژه. مور ټوله، د سړک پر څنډه، د هغه خواته په منډه شو. یوه مرمۍ یې پر زړه لګیدلې وه او بې حرکته پروت و. سترګو یې د شازیې جګ قد ته کتل. د مرمیو د اورښت لاندی مو چیغې وهلې. مور مې ځان پر مخ واهه او خپل ویښتیان یې شکول. ټولو بی هدفه هرې خواته منډې وهلې، ګوندې کوم امن ځای پیدا کړي. زموږ له څنګ څخه خلک د تیریدلو په حال کې ویل چې، هغه پر خدای وسپارئ، خپله چاره وکړئ. موږ نه پوهیدلو څه وکړو .زما د مور نارې سورې د موټر له هارن سره ګډې شوې. د وسله والو کسانو یو پیکپ موټر زموږ اړخ ته ودرید او په مانا داره چپتیا یې زما د پلار جسد موټر ته واچوی او ویې ویل چې موږ یې ښخوو.

هغه شپه مو تر سهاره وژړل او د ترور د کور په کنجونو کې مو ځانونه خوندي کړي وو. یوازې د ماشومانو لپاره څو ګولۍ ډوډۍ پیدا شوه. سهار څو راکټه د ګذرګاه پر کورونو ولګیدل او سیمه یې د یوه دروند لوګي لاندې کړه. زما ترور له خپلو ماشومانو سره د چنداول خوا ته او موږ د رئیس باغ سیمې ته ولاړو.